بسم الله الرحمن الرحیم

مبنی

لومړۍ ماده

دغه مقرره د اساسي قانون د لسمې او پنځه څلويښتمې مادې او د پوهنې د قانون د يوپنځوسمې مادې د حکمونو پر بنسټ وضع شوې ده.

موخې

دوهمه ماده

د خصوصي سکتور له لوري د پوهنې د درسي کتابونو د چاپ موخې په لاندې توګه دي:

(۱) د پوهنې وزارت لپاره د درسي کتابونو د چاپولو او وېشلو د مالي لګښتونو کچه را ټيټول.

(۲) د پوهنې درسي کتابونو ته د زدکوونکو او نورو اړتيا لرونکو لاسرسی او په نا قانونه توګه د هغو له چاپېدو څخه مخنيوی.

(۳) په ټولنه کې د پوهنې د کتابونو د پراخ وېش له لارې د پوهنې د وزارت د ښوونيزو او فرهنګي خدمتونو عامول.

(۴) د کار زمينه رامنځته کول

د جواز اخيستنې شرطونه

دريمه ماده

هغه حقيقي او يا حکمي اشخاص چې د پوهنې د درسي کتابونو د چاپ او خپرولو غوښتنه ولري لازمه ده د لاندې شرطونو له بشپړولو وروسته د هغه جواز له پوهنې وزارت څخه واخلي:

(۱) د تابعيت د تذکرې/ پاسپورټ لرل او که چېرې جواز غوښتونکی لوری بنسټ وي، د فعاليت معتبر جواز لرل.

(۲) د سوداګرۍ، خصوصي ښوونيزې مؤسسې او يا مطبعې معتبر جواز لرل.

(۳) د پوهنې وزارت د خپرونو په برخه کې د اړوندې فورمې ډکول چې په هغه کې د جواز غوښتنليک او د

مبنی

مادۀ اول

این مقرره به تأسی احکام مادۀ دهم و چهل و پنجم قانون اساسی و مادۀ پنجاه و یکم قانون معارف وضع گردیده است.

اهداف

مادۀ دوم

اهداف چاپ کتب درسی معارف از جانب سکتور خصوصی قرار ذیل می باشد:

(۱) کاهش سطح مصارف مالی چاپ و توزیع کتب درسی برای وزارت معارف.

(۲) دسترسی شاگردان معارف و سایر نیازمندان به کتب درسی معارف و جلوگیری از چاپ غیر قانونی آن.

(۳) تعمیم خدمات تعلیمی و فرهنگی وزارت معارف از طریق توزیع گستردۀ کتب درسی معارف در جامعه.

(۴) ایجاد زمینۀ کار.

شرایط اخذ جواز

مادۀ سوم

اشخاص حقیقی و یا حکمی که تقاضای چاپ و نشر کتب درسی معارف را داشته باشند، لازم است بعد از تکمیل شرایط ذیل جواز آن را از وزارت معارف اخذ نماید:

(۱) داشتن تذکرۀ تابعیت/ پاسپورت و هرگاه متقاضی نهاد باشد، داشتن جواز معتبر فعالیت.

(۲) داشتن جواز معتبر تجارت، مؤسسۀ تعلیمی خصوصی و یا مطبعه.

(۳) خانه پری فورم مربوطه در بخش نشرات وزارت معارف که شامل درخواستی جواز و انتخاب کتاب های

چاپ وړ کتابونو ټاکل شامل دي.

## د سندونو طی مراحل او د جواز ورکړه

**څلورمه ماده**

(۱) د خپرونو برخه به د یوې اونۍ په ترڅ کې د جواز غوښتونکي غوښتنلیک او د جواز لپاره لازم سندونه چې د دې مقررې په دریمه ماده کې یاد شوي دي ارزوي او د ښوونیز نصاب ادارې ته راپور ورکوي.

(۲) کـه غوښـتونکی پـه شـرطونو برابـر وي، د ښـوونیز نصاب اداره د خپرونو برخې ته هـدایت ورکـوي تـر څـو جواز چمتو کړي.

(۳) د پوهنې د درسي کتابونو د چـاپ جـواز د پـوهنې د وزیر له خـوا منظـور او د خپرونـو پـه برخـه کـې ثبـت او صادرېږي.

## د جواز د اعتبار موده او تمدید

**پنځمه ماده**

د پوهنې د درسي کتابونو د چاپ او خپرولو د جواز مـوده پنځه کاله ده جواز د نومورې نېټې لـه تېرېـدو وروسـته، د ښوونیز نصاب د پراختیا د ادارې د ارزونې مثبتو پایلو ته په پام سره د تمدید وړ دی.

## د پوهنې د درسي کتابونو د چاپ معیارونه

**شپږمه ماده**

(۱) د پوهنې درسي کتابونه د ښـوونیز نصـاب د ادارې د طرحې، ډیزاین، قطعې او صحافت سره سم چاپېږي.

(۲) جواز لرونکی به له چاپه مخکې د هر کتاب یوه چاپي نمونـه د ښـونیز نصـاب ادارې تـه ورکـوي او د ښـوونیز نصاب له تأیید وروسته به د منـل شـوې نمـونې سـره سـم کتابونه چاپوي.

(۳) جواز لرونکی به د کتاب د پوښ په دننه مـخ کـې د چاپ کال، د مطبعې نوم، تجارتي نښه او د جواز شمېره او د هـر مـخ پـه څنـډه کـې، د بېلـونې وړ نښـه چـې د هـر خپرندوی لپاره په جلا توگـه د خپرونـو د برخـې لـه خـوا ټاکل کېږي چاپوي.

مورد چاپ می‌باشد.

## طی مراحل اسناد و اعطای جواز

**مادهٔ چهارم**

(۱) بخـش نشـرات طـی مـدت یـک هفتـه درخواسـتی متقاضی و سایر اسناد ضروری را که در مادهٔ سـوم ایـن مقرره ذکر گردیـده اسـت، ارزیـابی و بـه ادارهٔ نصـاب تعلیمی گزارش می‌دهد.

(۲) در صورتی که متقاضی واجـد شـرایط باشـد، ادارهٔ نصاب تعلیمی به بخش نشرات هدایت می‌دهد تـا جـواز را تهیه نماید.

(۳) جواز چـاپ کتـب درسـی معـارف از طـرف وزیـر معارف منظور و در بخش نشـرات ثبـت و صـادر مـی-گردد.

## مدت اعتبار جواز و تمدید

**مادهٔ پنجم**

مدت جواز چاپ و نشر کتب درسی معـارف پـنج سـال است و بعد از سپری شـدن مـدت متـذکره بـا در نظـر داشت نتایج مثبت ارزیابی ادارهٔ انکشاف نصاب تعلیمـی قابل تمدید می‌باشد.

## معیارهای چاپ کتب درسی معارف

**مادهٔ ششم**

(۱) کتب درسی معارف مطابق طـرح، دیـزاین، قطـع و صحافت ادارهٔ نصاب تعلیمی چاپ می‌شود.

(۲) دارندهٔ جواز قبل از چاپ یک نمونهٔ هرکتاب را در اختیار ادارهٔ نصاب تعلیمی قرار می‌دهـد و بعـد از تأییـد نصاب تعلیمی، مطابق نمونهٔ پذیرفته شده کتب را چـاپ می‌نماید.

(۳) دارندهٔ جواز در صفحهٔ داخلـی پـوش کتـاب سـال طبع، نـام مطبعـه، علامـهٔ تجـارتی و شـمارهٔ جـواز و در حاشیهٔ هر صفحه، علامهٔ قابل تفکیک که برای هر ناشـر طور جداگانه از جانب بخش نشرات انتخاب مـی‌گـردد طبع می‌نماید.

(۴) جواز لرونکی به د کتاب په پوښ او پاڼوکې هېڅ ډول شکلي او محتوايي لاسوهنه نه کوي.

(۵) که چېرې د ښوونيز نصاب د ادارې له لوري په کتابونو کې بدلون راځي د هغه سافټ جواز لرونکو ته هم ورکول کېږي.

(۶) جواز لرونکی به د نوي متن له ترلاسه کولو وروسته هغه چاپ او بازار ته وړاندې کوي.

(۷) که چېرې د جواز لرونکي له لوري د پوهنې درسي کتابونه په داسې حال کې چاپ او بازار ته وړاندې شوي وي چې له منظورې شوې نمونې سره سمون ونه لري د جواز لرونکي په لګښت له بازاره را ټولول کېږي.

## د جواز فسخ او تعزير

**اوومه ماده**

(۱) که چېرې جواز لرونکی د دې مقررې د شپږمې مادې د حکمونو خلاف عمل ترسره کړي، جواز فسخ کېږي.

(۲) که چېرې جواز لرونکی د کتاب محتوا داسې بدله کړې وي چې په هغه کې ملي، اسلامي او يا فرهنګي ارزښتونه نقض شوي وي، د جواز له فسخ کېدو څخه علاوه جوازلرونکی د عدلي تعقيب لپاره اړوندو ارګانونو ته ور پېژندل کېږي.

## انفاذ

**اتمه ماده**

دغه مقرره په اتو مادو کې چمتو شوې ده، د ولسمشر له توشيح او په رسمي جريده کې تر خپرېدو وروسته نافذېږي.

د دې مقررې په نافذېدو سره په دې اړه پخواني مغاير حکمونه لغو ګڼل کېږي.

(۴) دارندۀ جواز در پوش و صفحات کتاب هيچگونه تغييرات شکلی و محتوايی وارد نمی‌کند.

(۵) هرگاه از طرف ادارۀ نصاب تعليمی در کتب تغيير به وجود می‌آيد، سافت آن در اختيار دارنده های جواز نيز داده می‌شود.

(٦) دارندۀ جواز بعد از بدست آوردن متن جديد آنرا چاپ و به بازار عرضه می‌نمايد.

(۷) هرگاه کتب درسی معارف از طرف دارندۀ جواز درحالی چاپ و به بازار عرضه گردد که با نمونۀ منظور شدۀ آن مطابقت نداشته باشد، کتب منتشر شده به مصرف دارندۀ جواز از بازار جمع آوری می‌گردد.

## فسخ جواز و تعزير

**مادۀ هفتم**

(۱) هرگاه دارندۀ جواز عمل خلاف احکام مندرج مادۀ ششم اين مقرره را انجام دهد، جواز فسخ می‌گردد.

(۲) در صورتی که دارندۀ جواز محتوای کتاب را طوری تغيير داده باشد که در آن ارزش‌های ملی، اسلامی و يا فرهنگی نقض شده باشد، علاوه از فسخ جواز دارندۀ جواز جهت تعقيب عدلی به ارگان های مربوطه معرفی می‌گردد.

## انفاذ

**مادۀ هشتم**

اين مقرره در هشت ماده تهيه گرديده، بعد از توشيح رئيس جمهور و نشر در جريدۀ رسمی نافذ می‌گردد.

با انفاذ اين مقرره احکام مغاير سابقه در اين مورد، ملغی پنداشته می‌شود.